د چاپیریال اقتصاد

# د اقلیم تغیرات او د هغې د پالیسی وسایل





Ketabton.com

یکونکي: انیل شیشودیا او کېتر سینګ
باړونکی: رفیع الله 'سحر'

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چاپېریال اړوند پالیسي ته اړتیا

د صنعتي انقلاب نه کلونه وړاندې چې کله ساده کلیوالي ژوند وو نو په هغې وخت کې نفوس هم کم وو، اقتصادي تولیدات یوازې لاسي صنایع او زراعتي محصولات وو چې هغه هم په ډېره کمه پیمانه پیدا کیده نو د چاپیریال ستونزې هم کمې وې خو هر څومره چې دغه ساده ژوند په یو پرمختللی او عصري ژوند بدل شوی او اقتصادي پرمختګومه رامنځ ته شوي دي، لویې لویې تولیدي فابریکې رامنځ ته شوي، نفوس هم ډېر شوی او د زراعت په برخه کې هم بې ساري پرمختګونه رامنځ ته شوي دي نو دا ددې باعث شوی چې چاپیریال متأثره کړي او بیلابیلې ستونزې یې رامنځ ته کړي. که ددې ستونزو او تأثیراتو کوم چې د اقتصادي پرمختګ په نتیجه کې رامنځته شوی او چاپیریال ته زیان لري مخنیوی ونه شي نو په نتیجه کې به د ځمکې پر مخ ژوند کول ډېر سخت شي. د دغو ستونزو مخنیوی په اقتصادي برخه کې د یو ښه او معقول پالیسي (تګلاره) په جوړولو سره کیږي. انفرادي اشخاص که تولیدونکي دي او که مستهلکین دي ددوي ټولو رویه (عمل) د بازار (Market) په شرایطو پورې اړه لري. د چاپیریال تخریب هغه ځای کې رامنځ ته کیږي چیرې چې خورا لږ اقتصادي پراختیا شتون ولري او یا هم له ډېر زیات اقتصادي پراختیا شتون ولري. په ډېرو لږو پراختیایي شرایطو لرونکو سیمو کې بې وزلي او د نفوسو د زیاتوالي فشار خلک دېته اړ کوي چې طبیعي سرچینې او چاپیریال زیات استعمال کړي ترڅو خپل ژوند پرې تأمین کړي او له بلې خوا د اقتصادي پرمختیا زیاتوالی چې د ښاري کیدو،صنعتي کیدو او د بیارغوونې د چارو د پرمختګ لامل هم کرځي، یو شمیر ستونزې هم زیږوي لکه د نفوسو زیاتوالی، بیروبار، د اوبو، خاورې او هوا ککړتیا، د مرضونو، ویروسونو او باکتریا ګانو زیاتیدل او واقع کیدل او داسي نور...

په دواړو قضیو کې د چاپیریال د ستونزو او مشکلاتو د حل لاره په داسې یو ملي پالیسي کې پروت دی چې په ښه شکل ډیزاین او طرحه شوی وي او په ټولو چارو کې پلان شوی توازن او د د ودامداره پرمختګ د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اقلیم او د اقلیم تغیرات (Climate & The Climate Change)

د آب و هوا ټول روزمره شرایط او حالاتو ته په اوږود مهال کې (له 30-25 کلونو پورې) اقلیم وایي.

په اقلیم او اقلیمي شرایطو او ټولو هغو عواملو کې کوم چې په اقلیم باندې تأثیرات لري په اوږود مهال کې تغیراتو او بدلونونو ته د اقلیم تغیرات (Climate Change) وایي. لکه په اوسط حرارت درجه (Average Temperature) کې تغیرات، د باران د اوربښت په مډل کې تغیرات، د بادونو په تیزوالي او څرنګوالي کې تغیرات او داسې نور...

## د اقلیم د تنظیم عوامل (Factors Which Regulates The Climate)

لاندې عوامل د اقلیم په تنظیم او کنترول کې مهم رول لري، که په دې عواملو کې تغیرات رامنځ ته شي نو په اوږده موده کې په اقلیم کې هم تغیرات رامنځ ته کیږي.

1. حرارت (Temperature)
2. اورښت (Rainfall)
3. باد (Wind)
4. لنده بل یا رطوبت (Humidity)
5. توپوګرافي یا نقشه بندي (Topography)
6. زرغونوالی یا نباتي ژوند (Vegetation)

نړیوال ګرمایش (Global Warming) د اقلیم د تغیرېدو ترټولو لومړنی او لوی عامل دی، یعنی د ځمکې د اتموسفیر په اوسط حرارت درجه کې زیاتوالی راولي. کله چې د نړیوال ګرمایش (Global Warming) له کبله د ځمکې د اتموسفیر په اوسط حرارت درجه (Temperature) کې تغیرات رامنځ ته شي یعني د ځمکې د حرارت درجه زیاته شي نو دا ددې باعث کیږي چې د اقلیم د کنترول په عواملو کې هم تغیرات رامنځ ته شي لکه په تیرو100 یا 125 کلونو کې د ځمکې د اتموسفیر په اوسط حرارت درجه کې له 0.6 څخه تر 0.8 سانتي ګرید درجې پورې زیاتوالی راغلی دی.

د اقلیم د تنظیم په عواملو کې حرارت (Temperature) د اقلیم د تغیراتو یو کلیدي عامل دی، ځکه چې همدا حرارت اورښت (Rainfall)، باد (Wind)، لنده بل (Humidity) او داسې نور... کنترولوي.

د فشار او د حرارت ترمنځ مستقیمه رابطه شتون لري، هرکله چې د ځمکې د اتموسفیر حرارت زیات شي نو د ځمکې په سطحه باندې فشار زیاتیږي چې له کبله یې تیز بادونه (Wind) او طوفانونه، بوړبوړکي او داسې نور رامنځ ته کیږي. همدارنګه دغه حرارت په رطوبت، نقشه بندي (Topography) او زرغونوالي (Vegetation) باندې هم د ځمکې په سطحه کې اغیزه لري چې په نهایت کې په اقلیم کې تغیرات رامنځ ته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اقليم د تغيراتو علتونه (Causes of Climate Changes)

د اقليم د تغيراتو علتونه په دوو لويو کټګوريو ويشل شوی دی چې عبارت دي له :

1. طبيعي علتونه Natural Causes
2. غير طبيعي علتونه Anthropogenic Causes


**لومړی: طبيعي علتونه**

**(الف): قاره يي حرکات (Continental Drift):**


لکه څرنګه چې مونږ ټولو ته بهتره معلومه ده چې په نړی کې اوه براعظمه (قاره) وجود لري، د ځمکې پيژندني د علم له نظره ددې ټولو براعظمونو موقعيت او حالت ثابت ندی بلکې د تغير په حال کې دی، يعني هرکال د 0.6 نه تر 10 سانتي مترو پورې ټول براعظمونه يا يو له بل څخه لرې کيږي او يا هم يو بل ته نژدې کيږي چې دا بيا ددې باعث کيږي چې د ځينو ساحو په طول البلد (Longitude) او عرض البلد (Latitude) کې تغيرات رامنځ ته شي او دا بيا په نهايت کې په شکل د اشکالو په اقليم باندی اغيزه لري او ددې ساحو اقليم تغيروي.

(ب): د ځمکې تمايل يا ميلان (Earth’s Tilt):

دلته د ځمکې د ميلان او تمايل نه هدف د ځمکې د محوري حرکت څرنګوالی دی.




پورتنی شکل د ځمکې تصوري يا ايډيالي محوري حرکت دی خو په حقيقت کې داسې نه ده يعنی ځمکه خپل محوري حرکت په عمودي محور باندې په دا پورته شکل سرته نه رسوي بلکې په لږ کوږوالي سره يې سرته رسوي او د عمودي محور سره 23.5 درجې زاويه جوړوي چې په لاندې شکل کې کيدای شي ښه واضح شي



(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هرڅومره چې دغه د محور کوږوالی (Tilt) زیاتیږي په هماغه اندازه اندازه اقلیمي شرایط د ځمکې په سطحه کې شدید کیږي او څومره چې دغه محور سیده کیږي په هماغه اندازه اقلیمي شرایط نورمال کیږي.

**(ج): سمندري سیلان یا سمندري بهیدنه (Ocean Currents):**

د ځمکې د سطحې 75% برخه اوبو نیولې ده چې له هغې څخه یې 71% سمندرونه تشکیلوي. هرڅومره چې دسمندرونو سیلان یا د سمندرونو د بهیدلو جریان زیاتیږي په هماغه اندازه براس (تبخیر) زیاتیږي، او هرڅومره چې تبخیر زیات شي په هماغه اندازه بارانونه زیاتیږي نو لدې څخه څرګندیږي چې سمندري جریان هم د اقلیم په تغیرولو کې مهم رول لري.

**(د): د اورغورځوونکي (آتشفشان) راخوټیدنه (Volcano Eruption):**

کله چې آتشفشانونه انفجار (جوش) کوي نو له هغې څخه په ډیر زیات مقدار مختلف ګازونه اتموسفیر ته داخلیږي لکه د شنو خونو ګازات (Greenhouse Gases) او داسې نور... چې دا بیا د نړیوال ګرمایش Global Warming د زیاتیدو باعث ګرځي او په نهایت کې بیا هم اقلیم تغیروي.

دا او دیته ورته نور د اقلیم د تغیراتو طبیعي علتونه هم شتون لري چې په بیلابیلو شکلونو په طبیعي ډول د اقلیم د تغیریدو باعث ګرځي.

**دوهم: غیر طبیعي علتونه:**

دا ټول هغه علتونه دي چې په طبیعي ډول نه رامنځ ته کیږي بلکې د انسانانو د فعالیتونو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي او د اقلیم د تغیراتو سبب ګرځي.

**(الف): د فوسیل موادو سوځول (Burning of Fossil Fuels):**

د لرغوني زماني د حیواناتو او نباتاتو د پاتې شوني موادو لکه تارکول، پطرولیم، طبیعي ګازاتو او داسې نورو سوځول ددې باعث کیږي چې د شنو خونو تأثیرات (Greenhouse Effects) زیات کړي.

Greenhouses یا شنې خونې (ګرمخانې) د لمر مختلف شعاع ګانې جذبوي چې له امله یې د ځمکې د اتموسفیر حرارت لوړیږي او ورسره نړیوال ګرمایش زیاتیږي او په شکل د اشکالو اقلیم تغیروي.

**(ب): د ځنګلونو وهل (Deforestation):**

ځنګلونه په طبیعت کې د اتموسفیر څخه د کاربن ډای اکساید (CO2) زیات مقدار جذبوي او دا کاربن ډای اکساید خپله یو GHG یا د شنو خونو ګاز دی او د هغې یوه برخه ده. هرکله چې ځنګلونه وهل کیږي نو په اتموسفیر کې د کاربن ډای اکساید مقدار زیاتیږي چې دا خپله ددې باعث ګرځي چې نړیوال ګرمایش (GW) زیات کړي او بیا هم په آخره کې اقلیم تغیر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### (ج): د کلوروفلورو کاربن او هایدروفلورو کاربن استعمال (Use of CFCs & HFCs):

کلوروفلورو کاربن او هایدروفلورو کاربن ډیر خطرناک مرکبات دي او طبیعت (چاپیریال) زیانمنوي. دغه مرکبات له یوې خوا د اوزون د طبقې د تخریب (Ozone Layer Depletion) سبب گرځي او له بلې خوا GW یا نړیوال گرمایش زیاتوي او بلآخره د کلونو په تیریدو سره په اقلیم کې تغیرات رامنځ ته کوي.

دا او دیته ورته نور فعالیتونه هم شتون لري چې انسانان یې سرته رسوي او په اوږده موده کې د اقلیم د تغیریدو باعث گرځي.

### تیزابي باران (Acid Rain)

تیزابي باران د صنعتي انقلاب په رامنځ ته کیدو سره کلونه وړاندې رامنځ ته شو او په ډیرو سیمو کې اوس هم کله کله رامنځ ته کیږي. تیزابي باران یو ډیر خطرناک او ډیر ژر خپریدونکی آلوده گي ده چې په ډیری سیمو کې کله کله ورته د طاعون (Plague) کلیمه استعمالوي.

په تخنیکي ډول په تیزابي باران کې مختلف تیزابونه په ډیر زیات مقدار شتون لري چې په طبیعت کې انسانان، حیوانات او نباتات زیانمنوي او حتی د هغوي د مرگ سبب گرځي. په تیرو څو لسیزو کې د اروپا او شمالي امریکا په ځینو سیمو کې د بارانونو تیزابیت شدید شوی دی او ډیر تر سترگو کیږي.

### د تیزابي باران د رامنځ ته کیدو علتونه (Causes of Acid Rain)


په طبیعت کې تیزابي باران هغه وخت رامنځ ته کیږي چې کله سلفر اکساید او نایتروجن اکساید آزاده هوا یا اتموسفیر ته داخل شي. د نایتروجن اکساید د خپریدو ترټولو لویې سرچینې نقلیه وسایط (ترانسپورټي وسیلې) دي او د سلفر ډای اکساید د خپریدو ترټولو لویې سرچینې بریښنایي دستگاوې او صنعتي بټۍ دي.

په اتموسفیر کې تیزاب هغه وخت جوړیږي چې کله سلفر اکساید او نایتروجن اکساید له اوبو سره تعامل وکړي او یو شمیر تیزابونه لکه سلفوریک اسید (H2SO4)، نایتریک اسید (HNO3) او نایتریس اسید (HNO2) ترې جوړیږي.

د لمر وړانگې دغه تعاملات تیزوي، اوس کله چې باران یا واوره وریږي نو په هوا (اتموسفیر) کې چې هرڅومره کیمیاوي مواد (تیزابونه) موجود وي دا ټول ځمکې ته راوړي او بیلابیل موجودات زیانمنوي.

په پاکه هوا کې هم ځینې وخت کاربن ډای اکساید موجود وي نو د باران په وخت کې چې د کاربن ډای اکساید او د اوبو د څاڅکو ترمنځ تعامل صورت نیسي دا تعامل باران ته 5.6 PH ورکوي او حتی پاک او صفا باران هم ورو ورو تیزابي بڼه غوره کوي. دغه تیزابي باران د تیز باد په وسیله له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته انتقالیږي چې دې سره تیزابي باران په یوې لویې ستونزې باندې بدل شوی دی. په نړیواله کچه د تیزابي باران د مخنیوي د مصارفو په خاطر کوم موافقه یا قرارداد ندی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




پورتنی انځور د تیزابي باران د جوړیدو پروسه څرګندوي.

## د تیزابي باران اغیزې (Effects of Acid Rain)

تیزابي باران انسانان، حیوانات او نباتات زیانمنوي، فلزات او تعمیراتي (عمارتي) مواد تخریبوي. د تیزابي باران ځیني اغیزې د امریکا په متحده ایالاتو، د جرمني په پخواني فدرالي جمهوریت، لرغونی چک او سلواکي، نیدرلینډ، سویټزرلینډ، آسترالیا، پخوانی یوګسلاویا او داسې نورو هیوادونو کې ثبت شوي دي.

## د تیزابي باران د ستونزې مخنیوی (Solution To The Acid Rain Problem)

تیزابي باران یوه ډیره لویه ستونزه ده خو بیا هم د کنترول وړ ده.چاپیریال د تیزابي باران د منلو وړ یو مقدار سره توافق کولی شي. ځیني خاورې یوه اندازه القلي خاصیت لري او د خاورې دغه خاصیت د اهکي ډبرو له کبله ده کوم چې د 7 څخه لوړ PH(Power of Hydrogen) لري. لکه څنګه چې تیزاب له القلیو سره مخالفت لري نو دغه خاورې کوم کې چې اهکي ډبرې (Limestone) واقع کیږي ورو ورو د تیزابي باران تیزابي خاصیت له منځه وړي او په هغه ځایونو کې چې اهکي ډبرې نه واقع کیږي هلته تیزابي باران چاپیریال زیانمنوي.

همدارنګه که چیرې په اتموسفیر کي د سلفر ډای اکساید او نایتروجن اکساید مقدار کم شي او مخنیوی یې وشي نو تیزابي بارانونه به هم کم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک باید د انرژی بیلابیل ډولونه ډیر استعمال نکړي تر څو ډیر ککړتیا رامنځ ته نکړي لکه بریښنایي انرژي په کم مقدار استعمال کړي، کله چې کم انرژي استعمال شي او د ډېرو سکاره په لړ مقدار وسوځول شي نو د تیزابي باران مخنیوی به وشي، حتی که یو ځای ته پیاده تلل امکان پذیر وي نو هلته د ترانسپورتي وسایلو په واسطه تلل ضروري نه ده. دا به د هوا او چاپیریال په پاکوالي کې ډیره مرسته وکړي.

پوهان وایي که چیرې انرژي په دقت سره استعمال شي نو د سونګ (سوخت) موادو د استعمال اندازه به نیمایي شي.که چیرې د ډېرو سکاره له سوځولو څخه مخکې وینځل شي نو له هغې څخه ټول مضر ککړونکي (Pollutants) له منځه ځي. هر کله چې د ډېرو سکاره میده میده شي او په اوبو پریمینځل شي نو له هغې څخه سلفر ختمیږي او له منځه ځي.خو دا تر ټولو قیمتي میتود دی او ډیرې پیسې پرې مصرفیږي.
هیڅ کمپني دا نه غواړي چې خپلې پیسې د ډبرو سکارو په پریمینځلو مصرف کړي بلکې همداسط یې استعمالوي.

## نړیوال ګرمایش (Global Warming)

د ساینسي علومو د اداري د یو راپور له مخې د ځمکې د سطحې د حرارت درجه تقریباً 1 درجه فارنهایت د تیرې سلیزې راپدیخوا زیات شوی دی. په 1980 م کال کې د ځمکې د سطحې اوسط حرارت درجه 15.18 سانتي ګرید درجه وو.تر 1990 م کال پورې دغه د حرارت درجه 15.38 سانتي ګرید درجې ته لوړ شو. په 1995 م کال کې 15.39 سانتي ګرید درجې ته لوړ شو، او تر 2005 م کال پورې د نړۍ د حرارت اوسط درجه 16.04 سانتي ګرید درجې ته لوړ شو چې په شمالي نیمه کره کې د 2005 م کال ترټولو ګرم ترین کال ثبت شو ځکه چې پدې کال کې په نړیوال حرارت کې 0.65+ سانتي ګرید درجه زیاتوالی راغلی وو. د شنو خونو د ګازاتو د غلظت زیاتوالی د اقلیم د تغیراتو د چټکوالي باعث ګرځي. ساینسپوهان پدې باور دي چې په راتلونکو 50 کلونو کې د ځمکې په اوسط حرارت درجه کې له 0.6 – 2.5 سانتي ګرید درجې پورې زیاتوالی راځي او په راتلونکو سلو کلونو کې له 5.8 – 1.4 سانتي ګرید پورې زیاتوالی راځي.

## د نړیوال ګرمایش علتونه (Causes of global warming)

څیړنو دا ثابته کړې ده چې په تیرو 50 کلونو کې د نړیوال ګرمایش اصلي علت انساني فعالیتونه ( اقتصادي فعالیتونه) دي. د انساني فعالیتونو زیاتوالی د اتموسفیر په کیمیاوي ترکیب کې د تغیراتو باعث شوی دی چې یوه برخه ددې فعالیتونو د GHG (Greenhouse Gases) یا د شنو خونو د غازاتو، د کاربن ډای اکساید، د میتان او د نایترس اکساید استعمال دی. د صنعتي انقلاب د شروع کیدو نه راپدیخوا د ځمکې په اتموسفیر کې د کاربن ډای اکساید غلظت تقریباً 30% زیات شوی، د میتان ګاز غلظت د دوه چند نه هم زیات شوی، همدارنګه د نایترس اکساید غلظت 15% زیات شوی دی چې دغه زیاتوالی د ځمکې د اتموسفیر د حرارت د لوړوالي باعث شوی دی. د ملګرو ملتونو د نړیوال سازمان د اقلیم د تغیراتو هیئت (IPCC) د 1995 م کال په یو راپور کې راغلي دي چې انساني فعالیتونه د اقلیم په تغیراتو کې کلیدي رول لوبولی او د IPCC د ګڼ شمیر ساینسپوهانو د مطالعې په اساس یوه وړاندوینه شوې ده چې تر 2100 م کاله پورې به د ځمکې په نړیوال حرارت درجه کې د 1 نه تر 3.5 سانتي ګریده زیاتوالی راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړيوال ګرمايش د زياتوالي اصلي علت په اتموسفير کې د کاربن ډای اکسايد، ميتان، نايترس اکسايد، کلوروفلوروکاربن او داسې نورو ګازونو د مقدار زياتوالی دی. په تېرو 200 کلونو کې د کاربن ډای اکسايد مقدار په هره برخه کې د 28 ميليون نه تقريباً 361 ميليونو ته زيات شوی دی چې ساينسپوهان يې اصلی علت د ګرځنده وسايلو (موټر، موټرسايکل او هرډول لوی او واړه نقليه وسايط) زياتوالی دی.

## د نړيوال ګرمايش اغيزې (Effects of global warming)

**نړيوال ګرمايش لاندې تأثيرات لري:**

1: د نړيوال ګرمايش په زياتوالي سره يخچالونه او قطبي کنګلونه ويلي کيږي چې په نتيجه کې د سمندر سطحه يا د سيندونو مخ زياتيږي يعني د سمندر په سطحه کې زياتوالی راځي او په نتيجه کې يې سيلابونه رامنځ ته کيږي او د ساحلي هيوادونو د سيلاب وهلو باعث ګرځي لکه بنګله ديش چې د IPCC (International Panel of Climate Change) د يو راپور له مخې پدې هيواد کې د نړيوال ګرمايش د زياتوالي له کبله په تيرو 100 کلونو کې د سمندر سطحه 18 cm زيات شوی دی او داسې پيش بيني شوېده چې په 2100 م کال کې به دلته د سمندر د سطحې لوړوالی تقريباً 50 cm ته رسيږي چې دا به د لويو طوفانونو د رامنځ ته کيدو باعث هم شي. په 1970 م کال کې په بنګله ديش هيواد کې ډېر قوي سيلاب او طوفان رامنځ ته شو چې د 300000 بنګله ديشيانو ژوند يې واخيست.

2: د باران د وريدو په معمول کې به تغيرات رامنځ ته شي، ځيني سيمي به له سختو وچکاليو سره مخ شي او په ځينو سيمو کې به ډير سخت واورې او شديد بارانونه صورت ونيسي.

3: د تازه اوبو کموالی به په ځينو وچو او نيمه وچو ميرو (شاړو ځمکو) کې رامنځ ته شي.

4: د نړيوال ګرمايش په زياتيدو سره به له بده مرغه انساني صحت ته هم ډير زيانونه ورسيږي، هغه باکترياګاني، ويروسونه او امراض چې په ګرمی کې ښه وده کوي لکه ملاريا،ډينګي،ژيړه تبه او نور ساري ناروغي او داسې نور به انساني صحت زيانمن کړي او ډير مرګونه به رامنځ ته کړي.

5: د وچکاليو، امراضو او وباګانو زياتوالی به ددې باعث شي چې زراعت او زراعتي محصولات زيانمن کړي او په نهايت کې به د غذا او خوراکي توکو قلت رامنځ ته شي.

## د نړيوال ګرمايش مديريت کول (Managing Global Warming)

د نړيوال ګرمايش د مديريت درې لارې چارې وجود لري چې عبارت دي له : Prevention يا مخنيوی، Mitigation يا کمول او Adaptation يا توافق.

**Prevention مخنيوی**: پدې برخه کې په اتموسفير کې د شنو خونو د غازاتو د جوړيدو مخنيوی کيږي چې دا کار به د شنو خونو په غازاتو باندې د مالياتو لوړولو او د فوسيل موادو پر ځای د يو بل تعويضي موادو رامنځ ته کولو سره ښه اسانه شي او په ښه شکل به سرته ورسيږي.

**Mitigation کمول يا وروسته کول:** ددې اصلي هدف د نړيوال ګرمايش ځنډونه او معتدل کول دي چې دا کار بيا د ونو او نيالګيو په کينولو سره ښه صورت نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Adaptation توافق:** د نړیوال ګرمایش پواسطه د رامنځ ته شویو تاثیراتو په مقابل کې د خلکو عکس العمل پکې ځیرل کیږي چې دا هدف د زراعتي سیمو د بدلولو او د زراعتي حاصلاتو د کښت په معمول (وخت) کې په تغیر راوستلو سره په ښه شکل ترلاسه کیږي.

## د اوزون د طبقې تخریب (Ozone Depletion)

په ستریتوسفیر (Stratosphere) کې دننه د اوزون د مالیکولونو غلظت ددې باعث شوی چې یو نوی طبقه (پوړ) رامنځ ته کړي چې هغې ته د اوزون طبقه یا Ozone layer وایي. تقریباً % 90 اوزون د اوزون د طبقې دننه وجود لري، همدارنګه نور مختلف طبقات او پوښونه شته چې د ځمکې اتموسفیر یې پوښلی دی او دغه کومه طبقه چې زمونږ په شاوخوا کې وجود لري او مونږ یې بره وینو دیته Troposphere وایي او د هغې نه پورته بله طبقه وجود لري چې هغې ته Stratosphere وایي. ستریتوسفیریک اوزون یو ډول ګاز دی چې په طبیعي ډول رامنځ ته کیږي. د اوزون طبقې ته د لمر عینکې هم وایي چې د لمر د مضرو شعاع ګانو او د ماوراءبنفش د مضرو ځلیدونکو برخو او شعاع ګانو څخه چې د پوستکي د سرطان او نورو ناروغیو باعث ګرځي د ځمکې سطحه ژغوري او کله چې د اوزون طیقه تخریب شي نو دا دیته ورته نورې مضرې شاع ګانې د ځمکې سطحې ته راځي او د ځمکې پر مخ ژوند سختوي.

## د اوزون د طبقې د تخریب عوامل (Causes of Ozone Layer Depletion)

د اوزون طبقه د آزاد راډیکل کتلستونو او د نایتریک اکساید (NO)، هایدروکسایل (Hydroxyl)، اتومي کلورین (Cl) او برومین (Br) په شمول د یو شمیر کیمیاوي مرکباتو پواسطه په ډیر آسانی سره تخریب کیږي او له منځه ځي. په داسې حال کې چې ددې کتلستونو طبیعي زیرمې هم شتون لري خو د برومین او کلورین د مقدار او غلظت د زیاتوالي یو علت او ددوي یوه سرچینه د انسان په لاس جوړ شوي ارګانوهلوجن مرکبات لکه کلوروفلوروکاربن (CFCs) او بروموفلوروکاربن هم دي چې ددې استعمال او خپریدل په تیرو څو کلونو کې په بې ساري ډول ستونزې رامنځ ته کړي دي. د کلورین او برومین دغه راډیکلونه چې کله هوا ته داخلیږي نو بره په Stratosphere کې د ځینو مضرو شعاع ګانو پواسطه یو ځنځیري شکل اختیاروي چې تقریباً 10000 اوزون مالیکولونه له منځه وړي.

## د اوزون د طبقې د تخریب اغیزې (Effects of Ozone Depletion)

د ماوراءبنفش د مضرو شعاع ګانو ته له حده زیات څرګندتیا ددې باعث ګرځي چې د انسانانو صحت ته خطرات مواجه کړي چې د پوستکي سرطان یې ښه بیلګه ده. نو ښه خبره داده چې کله هم د ډیر وخت لپاره تاسې کار کوی او د لمر شعاع ګانې مستقیماً ستاسې وجود ته مواجه وي نو باید د خپل ځان ساتنه وکړئ. ددې ترڅنګ دغه مضرې شعاع ګانې ستاسو سترګو ته هم ډیر زیانونه اړوي نو تاسې کولای شئ چې له عینکو نه استفاده وکړئ. له کله راهیسې چې د اوزون طبقه تخریب شي نو تاسې باید خپل صحت ته لومړیتوب ورکړئ. د اوزون د طبقې د تخریب مخنیوی د ټول مسؤلیت دی نو تاسې کوشش وکړئ چې هغه شیان او مرکبات استعمال نکړې کوم چې کلوروفلوروکاربن (CFCs) لري. ددې لپاره چې خپل صحت ته مو پاملرنه وکړې تاسې باید پدې پوه شئ چې څنګه کولای شی د لمر د شعاع ګانو په مقابل خپل ځان وساتئ پدې اړه تحقیق او څیړنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اوزون د طبقې د تخریب مخنیوی

په 1980 م کال کې چې کله ساینسپوهانو دا ثابته کړه چې د انسانانو د اقتصادي فعالیتونو په نتیجه کې د اوزون طبقه تخریب شوی نو خلک ددې په پوهیدو سره ډیر وویریدل نو پدې وخت کې هیوادونو په ډیر چټکی سره یو نړیوال تړون لاسلیک کړ چې د (Montreal Protocol) په نوم یادیږي. په دې تړون کې داسې پریکړه وشوه چې هغه ګازات او کیمیاوي مواد کوم چې د اوزون د طبقې د تخریب باعث ګرځي لکه (CFCs) د هغې استعمال او کارول منع دي. په 1978 م کال کې د جنوري په 23 مه نیټه سویډن هغه لومړنی هیواد شو چې د کلوروفلوروکاربن ګاز CFCs استعمال یې په مکمل ډول بند کړ. له هغې نه وروسته یو شمیر نور هیوادونه هم لکه د امریکا متحده ایالات، کاناډا او ناروې د هغه ډول کیمیاوي موادو استعمال بند کړ کوم چې د اوزون د طبقې د تخریب باعث ګرځي خو اروپایي اتحادیې ورته پیشنهادات رد کړل.

خو لدې وروسته بیا هم په ځینو مواردو کې لکه سړونه (یخونه) او د فابریکو په پاکوالي کې له کلوروفلوروکاربن نه د امریکا په متحده ایالاتو کې کار اخیستل کیده.

د مونتیریل پروټوکول په تړون کې د ډیرو مذاکراتو نه وروسته د کلوروفلوروکاربن تولید په مکمل ډول بند شو د لومړي ځل لپاره په 1987 م کال کې. او تر 1996 م کاله پورې په مکمل ډول په ټولو هیوادونو کې تطبیق شو.

بیا په 2003 م کال کې د آګست د میاشتې په 2 نیټه ساینسپوهانو اعلان وکړ چې د کلوروفلوروکاربن، کلورین، فلورین او کاربن د تولید او استعمال د بندولو له کبله د اوزون د طبقې د تخریب جریان کم (سلو) شوی دی. همدارنګه درې سټلایټونو او درې ځمکنې دستګاوې دا ثابته کړه چې د اوزون د طبقې نه پورته چې کومه طبقه ده د هغې د تخریب کیدو نرخ هم راکم شوی دی په تیره لسیزه کې.

**دیته ورته یو شمیر نور عوامل هم شته چې د چاپیریال د تخریب باعث ګرځي نو دولت باید پدې برخه کې مداخله وکړي او لازم اقدامات ترسره کړي چې عبارت دي له:**

**د انسانانو او حیواناتو د نفوسو زیاتیدل:**

د هندوستان په هیواد کې په 1951 م کال کې د انسانانو د نفوسو شمیر 299 میلیونه تنه وه چې دغه شمیر بیا په 2001 م کال 1027 میلیونه تنو ته ورسیده چې دا په پنځو کلونو کې د نفوسو د درې چنده زیاتوالي ښودنه کوي. د ټولې نړی 16% نفوس په هندوستان هیواد کې اوسیږي، یعني ددغ هیواد نفوس د ټولې نړی شپاړس فیصده جوړوي پداسې حال کې چې هندوستان د ټولې نړی 2.4% جغرافیایي ساحه په برکې نیسي، یعني په ډیره کمه ساحه کې ډیر زیات نفوس هلته اوسیږي. په همدې ترتیب ډیر زیات شمیر حیوانات پدې هیواد کې شتون لري او د ډیرو وحشي غویانو او خوسیانو په درلودلو سره په ټوله نړی کې لومړی مقام لري.

د اهلي حیواناتو د یو راپور له مخې دغه هیواد 185 میلیونه خوسکیان او غواګان، 98 میلیونه وحشي غواګان، 61.5 میلیونه پسونه، 124 میلیونه وزې، 14 میلیونه خنزیران او 489 میلیونه کورني مرغان لري. د انسانانو او حیواناتو د شمیر زیاتوالی د نوموړي هیواد په طبیعي منابعو لکه اوبه او ځمکه ډیر زیات فشار واردوي او پدې ډول چاپیریال تخریبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې مونږ ټول پوهیږو ځمکه یا بله هره سیاره د انسانانو او حیواناتو د نفوسو یا د وزن د ټینګولو یو معلوم قابلیت لري خو ددې هیواد په ځینو سیمو کې د انسانانو، حیواناتو او نورو ژوندي او غیر ژوندي موجوداتو د زیاتوالي له کبله د ځمکې ساحه دغه قابلیت له لاسه ورکړی او په چاپیریال باندې ډیر زیات فشار وارد شوی دی. نو په یو هیواد د داسې حالاتو د مخنیوي لپاره باید د انسانانو او حیواناتو شمیر کنترول شي ترڅو په چاپیریال باندې فشار او د هغوي ناوړه اغیزې کم شي.

**په زراعتي ساحو کې د کیمیاوي موادو د استعمال زیاتوالی:**

لکه څرنګه چې مخکې مو ولیدل چې د هندوستان هیواد د ډیر نفوس لرونکی دی نو د 1960 م کال د شین انقلاب ( د وروسته پاتې هیوادونو د اقتصادي ودې لپاره په پراخه پیمانه د غلو د ښه جنسونو پراختیا) څخه وروسته پدې هیواد کې د خامو موادو او غذایي موادو لپاره اړتیا ډیره زیاته شوه او ددغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې په زراعتي ساحو کې تولیدات ډیر په چټکی سره روان دي او په دغه ساحه کې له ډول ډول کیمیاوي موادو لکه کیمیاوې سرې او حشره وژونکو دواګانو څخه کار اخلي ترڅو دغه جریان له ستونزو سره مخ نشي.

د 1971-1970 م کاله پورې پدې هیواد کې د کیمیاوي سرې د استعمال اندازه له 2.4 میلیونه ټنه وه چې بیا د 2005-2004 کاله پورې دغه اندازه تقریباً 18.4 میلیونه ټنو ته ورسیده چې دا د کیمیاوي سرې په استعمال کې د پام وړ زیاتوالی ښایي. همدارنګه په همدې کلونو کې د خوراکي غلو د تولید اندازه له 124.32 میلیونه ټنو نه 204.6 میلیونه ټنو ته ورسیده. ددې ترڅنګ د حشره وژونکو غازاتو او دواګانو استعمال هم په دې دوره کې د پام وړ زیاتوالی کړی. د دې ډول او دیته ورته کیمیاوي موادو د استعمال زیاتوالی ددې هیواد په زیاتره سیمو کې د اوبو او ځمکې د تخریب سبب شوی.

نو ددې ډول ستونزو د مخنیوي لپاره باید د یو ښه طرحې په اساس ددې ډول کیمیاوي موادو پر ځای د داسې موادو او سرو څخه کار واخیستل شي چې چاپیریال ته زیان ونه رسوي.

**د ښاري کیدنې او تولیدي فابریکو زیاتوالی:**

په تیرو دوو لسیزو کې د هندوستان هیواد د ښاري سیمو نفوس په ډیر چټکی سره زیات شوی دی. په 1981 م کال کې ددې هیواد 20% نفوس په ښارونو کې اوسیدل چې دغه اندازه بیا په 1991 م کال کې 23% ته او بلآخره په 2001 م کال کې 28% ته ورسیده چې ددې حالت اصلي علت د بیوزله خلکو مهاجرت دی ښاري سیمو ته، ترڅو هلته دندې پیدا کړي او کار وکړي چې دا بیا په ښاري سیمو کې د بیروبار (رش) زیاتیدل، د هوا ککړتیا، د اوبو ککړتیا او د بلآخره د چاپیریال ککړتیا رامنځ ته کوي.

په ښارونو کې د هوا ککړتیا ترټولو قوي او اصلي علت د نقلیه وسایطو زیاتوالی دی. د 2003 م کال د مارچ د میاشتې تر 31 نیټې پورې پدې هیواد کې د نقلیه وسایطو شمیر 64 میلیونه وه. د نقلیه وسایطو زیاتوالی ددې باعث شو چې په زیاتره ښاري سیمو لکه نوی ډیلي کې بیالابیلې صحي ستونزې رامنځ ته کړي او د خلکو صحت ته تاوان ورسوي، دا ستونزه ډیر جدي شو بلآخره د 1996 م کال د نوامبر د میاشتې په 18 نیټه ددې هیواد د سترې محکمې په هدایت د ترانسپورت وزارت معین د نقلیه وسایطو ټولو اتحادیو ته خبرداری ورکړل شو او پر هغوي یو شمیر قیودات وضع شو لکه د ډیرو غیر قانوني وسایطو جواز ختم شو، د هغه وسایط چې د اووه کلونو څخه زیات استعمال شوي د هغوي جواز هم ختم شو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریکشا ګانو د جوازونو نه نوي کول او په ټولو سرکونو کې د وسایطو دریمې برخې ته د ګرځیدو جوازونه ورکړل شو. د ښاري کیدنې د زیاتوالي ترڅنګ په تیرو دوو لسیزو کې په هندوستان هیواد کې تولیدي فابریکې هم زیات شوي چې دا هم د هوا، اوبو او د خاورې د خرابیدو باعث شوی. په هغه سیمو کې چې زیات شمیر تولیدي فابریکې شتون لري هلته د هوا کیفیت له حده زیات خراب شوی، همدارنګه د ځمکې لاندې اوبه او د ځمکې پر سطحه اوبه نور د انسانانو د څکلو لپاره مناسب ندی ځکه چې د ضایعاتو د جریان په نتیجه کې ګڼ شمیر زهري فاضله مواد د فابریکو څخه بیرته همدې اوبو او خاورو ته انتقالیږي او چاپیریال تخریبوي.

نو ددې ډول ستونزو د مخنیوي لپاره باید د تولیدي فابریکو موقعیتونه په صحیح ډول تنظیم شي او په تولیدي پروسه کې باید د داسې ډول تکنالوژي نه استفاده وشي چې د چاپیرال د تخریب باعث ونه ګرځي.

**په نړیوال تجارت کې د زراعتي توکو عدم کنترول:**

د 1995 م کال د WTO یا د نړیوال تجارتي سازمان د هدایت په اساس ټول نړیوال تجارتونه د هر ډول قیوداتو او کنترول څخه آزاد او خپلواک دي. د هندوستان هیواد هم د د نړیوال تجارت د سازمان غړی دی او په نړیوال تجارت کې ددې قوانینو پیروي کوي. د زراعتي توکو نړیوال تجارت په مستقیم او غیر مستقیم ډول د چاپیریال د تخریب سبب ګرځي. په صادراتو کې د قیمتونو لوړوالی تولیدونکي دیته هڅوي چې خپل تولیدات زیات کړي او تولیدونکي بیا د تولیداتو د زیاتولو لپاره د ډول ډول کیمیاوي سرو، حشره وژونکو غازاتو او دوا ګانو او د اوبو په استعمال کې زیاتوالي راولي چې دا بیا د طبیعي منابعو او چاپیریال د تخریب باعث ګرځي. په اوس وخت نوموړی هیواد پدې برخه کې د پام وړ اقدامات هم ترسره کړي دي. په هر حال زیات شواهد او اسناد پدې برخه کې شتون لري چې مونږ ته دا راښیي چې د ماهیانو نیول او د وریجو زیات تولیدات دواړه ددې سیمې په چاپیریال ناوړه اغیزې درلودلي.

د وریجو د مختلفو وراتیګانو د تولیداتو زیاتوالی ددې هیواد په پنجاب، هریانا، او غربي اوتر پردیش ایالتونو کې د ځمکې د مالګین کیدنې او د اوبو د ډنډ کولو ستونزې رامنځ ته کړې دي.

ددې ترڅنګ نړیوال اقتصادي اړیکې هم د پرمختیایي هیوادونو لپاره د چاپیریال په مدیریت کې ستونزې جوړې کړې دي ځکه چې دا هیوادونه خام مواد، نفت، المونیم، کاغذ او همدارنګه میوې او سابه پرمختللو هیوادونو ته صادروي چې دا هم پر چاپیریال ډیر ناوړه اغیزه لري. پرمختللي هیوادونه له خارجي تجارت څخه ډیرې پیسې لاسته راوړي او پرمختیایي هیوادونه بیا ډیرې کمې پیسې لاسته راوړي نو پرمختللي هیوادونه بیا د چاپیریال ستونزې په آسانی سره کنترولوي ځکه چې هغوي بیرته ددې ستونزو د مخنیوی لپاره ډیرې پیسې مصرفوي خو پرمختیایي هیوادونه بیا دا ستونزې په صحیح ډول نشي کنترولولای، ځکه چې دوي له اقتصادي لحاظه غریب دي او دا توان نلري چې زیاتې پیسې د چاپیریال د کنترول لپاره مصرف کړي. نو دې حالاتو او ستونزو ته په کتو سره حکومت باید د هغو زراعتي توکو په نړیوال تجارت کې چې د چاپیریال د تخریب باعث ګرځي مداخله وکړي او په مستقیم او غیر مستقیم ډول پدې برخه کې قوانین او مقررات وضع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د طبيعي آفتونو په مقابل کې د چاپیریال کمزورتیا:**

طبيعي منابع او چاپیریال د طبيعي آفتونو لکه اوږود مهاله وچکالي، سیلابونه، طوفان، د ځمکې ښویدنه، په ځنګلونو کې اورلګیدنه او داسې نورو په مقابل کې ډیر کمزوری دی او په طبيعي ډول یې مخنیوی نشي کولی. د هندوستان هیواد 60% خاوره د زلزلې په مقابل کې مقاومت نلري، یعني دغه خاوره یا په طبيعي ډول او یا هم په غیر طبيعي ډول کمزوری شوی دی، تقریباً 40 میلیونه هکتاره ځمکه د سیلابونو لپاره مایل (ځوړ) شکل لري، 68% د ټولې ساحې نه وچکالی ته ډیر حساس دی یعني پدې برخو کې وچکالي ډیر ژر ژر رامنځ ته کیږي، 55% خاوره یې د ټولې ساحې نه ډیر ژر زلزله منونکی دی او د زلزلې په مقابل کې هیڅ مقاومت نلري. دا چې د ځمکې دغه خاصیت طبيعي دی او غیر طبيعي دی خو د دغو ستونزو او طبيعي آفتونو د مخنیوي لپاره باید اقدام وشي چې دا کار د چاپیریال په برخه کې د یو ښه او معقولې طرحې په جوړولو سره ترسره کیږي.

دا او دیته ورته نور ډیر وسایل شتون لري چې د اقلیم د تغیراتو او د چاپیریال ساتنې په پالیسي کې ورته ځای ورکول کیږی او پدې برخه کې د موجوده ستونزو او ګواښونو مخنیوی پرې کیږي چې تاسې کولی شئ چې د پورته موضوعاتو په هکله لا ډیر معلومات په مآخذ کې د ذکر شویو منابعو څخه ترلاسه کړی او خپله د مطالعې تنده پرې ماته کړئ.

**ومن الله التوفیق**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مآخذونه


1. **Katar Singh, Anil Sheshodia, Environmental Economics (Theory & Applications)**
2. **Wikipedia, Access date (April/15/2021)**
3. **Google and different websites, access date (April/15/2021)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**